نورمحمد لاهو
۲۰۲۳/۰۶/۱۸

زنګ وهلی کولپ

یو بد خبر!
خو ته وغواړه چې دروغ شي
زه خبر شوم چې ته هم یې په سفر باندې روانه
د یوې لپې رڼا په شانې غواړې
د ځنګلونو په تیارو کې
خپل څراغ څخه شې ورکه
+ + + + +
زه خبر شوم چې نه غواړې
د سفر کیسه دې سترګو ته هم وکړې
داسې بې له مخه ښې لکه یو سیند
کوم سمندر سره یوځای شې بیا رانه شې
+ + + +
آخر زړه دې په دې څرنګه قانع کړ
چې د دنګ غره د ریدیو شیرین عطر لکه ګرد له مخه پریولې ؟
زه خبرشوم
لکه اوښکه له غږ پرته په ګریوان غواړې لمبه شې
پریږده ټول خلک دې لاړ شي خو ته مه ځه
له جامو ډکو بکسونو ته دې ومرم
نرۍ ملا ، تنکۍ پښې ، اوږدې مزلې
خورم قسم که د خدای لار وي
مه ځه !
مه ځه!
که ته ولاړه شې وربښمینې!
ددې ټولو دنګو ونو به زړه مات شي
ددې باغ هریو طاووس به مساپر شي
او مرغۍ به بیا دچا په دسترخوان باندې ټولیږي ؟
دلته لیرې یو سړی دی
له هغه به سترګې ولویږي په ځمکې
او د کور په دروازې به یې ترتله
یو کولپ پروت وي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ